# Ocial views in the poetry and prose of the Gul Pacha Ulfat

# د ګل پاچا الفت په نظم او نثر کښې اجتماعي نظریات

Babrak Miakhil*

**ABSTRACT:**

**Social thoughts in the poetry and prose of Gul pacha Ulfat:**

If we look attentively at the prose and poetry of Gul Pacha Ulfat, one can easily understand that his literary works reflect social thoughts of his period. Being a great social, literary writer, he has incorporated social thoughts in his literary and academic works. He has always attempted to give a dominant role to the social thoughts of his age in his literary and academic works.

In addition, it was Gul Pacha Ulfat who had always tried his best in order to convey his message to the readers. It should also be brought under discussion that whatever he had witnessed and observed in the society has been reflected through his prose and poetry for the reformation Of people traditions, culture and customs. The social thoughts of Gul Pacha Ulfat has different dimensions or perspectives such as reformative social thoughts, guidance and critical social thoughts

Guiding social thoughts: Ustad Ulfat has incorporated such social thoughts in his literary and academic works for his readers which are of great importance. It is worth mentioning that Ustad Ulfat has pointed out all those vices and virtues to the people of his age.

**Key Words:** Pashto, Poem, Critical Realism, Prose, Author, Scholars and ….

د ګل پاچا الفت په نظم او نثر کښې اجتماعي نظریات:

دګل پاچا الفت نظم او نثر ته که پام وکړو هر څه ئې له خپلې اجتماع راخیستي او د یوه لویې اجتماعي پوه ، لیکوال او ادیب په توګه ئې په خپل نظم او نثر کښې ځاے ورکړے دے هغه تل هڅه کړې ده چې په نظم او نثر کښې ئې هر ډول اجتماعي نظریات تبارز وکړي او په دې ئې فکر کړے چې په نظم او نثر کښې خپل مخاطبین په نخښه او خپل پېغام ور ورسوي او له ټولنې ئې چې څه اخیستي د خپلو جادوګرو الفاظو سره ئې غاړه غړې ببرته خپلې ټولنې ته وړاندې کړي .د الفت ټولنیز نظریات مختلف ابعاد لري، د هغه لارښوو دې ټولنیزې نظریې، نقدوونکې نظریې او په عمومي ډول هغه ټول نظریات چې ټولنه ورسره سر و کار لري.

لارښوونکي اجتماعي نظریات: استاد په خپل نظم او نثر کښې خپلو مخاطبینو ته داسې نظریات

* Scholar and writer, Nangarhar University, Jalalabad Afghanistan

وړاندې کړي دي چې ډېر لاربښوونکي مفاهیم او موضوعات پکښې شته دا هغه نظریات دي چې اولس ورسره دلچسپي لري، دا چې هر څه کتلي چې هغه د ټولنې ناسمۍ او نواقص دي نو هغه ئې اولس ته په ګوته کړي دي. د بېلګې په توګه همت هغه څه دے چې هر انسان ته په کار دي انسان د خپلې قوي ارادې او همت په ذریعه کولے شي خپلې ستونزې حل کړي نو ځکه همت انسانانو ته ضرور دے چې ترې کار واخلي او له تنبلۍ او لټۍ نه ځان وساتي. الفت صېب په خپلو اشعارو کښې همت ته اشاره کوي او له خپلو مخاطبینو غواړي چې له همت څخه کار واخلي. دے لکه څنګه چې خوشحال خان خټک هم همت ته په ډېر څه قایل دے:

مــــــرد هغــــــــه چــــــې همتنـــــــاک برکتنـــــــاک
لــــــه عالمــــــه ســــره خـــوړ پـــــه زیســـت او ژواک
مـــخ ئـــې مـــخ، قـــول ئـــې قـــول، عهـــد ئـــې عهـــد
نـــــه درواغ، نـــــه ئـــې فرېـــب نـــــه تـــش تپـــاک
لـــړ وئیـــل، ډېـــر ئـــې کـــول پـــه خاموشـــۍ کښـــې
د غنچـــــې غونـــــدې خولـــــۀ ډکـــــه، ســـــینه چـــاک
چـــــې خبـــــره د پســـــتۍ د بلنـــــدۍ شـــــي
پـــه لـــویۍ کښـــې وي اســـمان پـــه پســـتۍ خـــاک[۱]

الفت صېب هم د خوشحال په څېر همت ته په لوړ څه قایل دے او دے په دې باره کښې په دې ټکو خپلې منظومې څرګندونې لري:

ځـــان غورځـــوي لـــه ګړنګونـــو پـــه یـــوه اشـــارت
منـــډه ور اخلـــي، هســـې نـــه چـــې تامـــل پســـې ځـــي
افتخـــارات او لـــــویې ګټـــې مشـــــکلاتو کښـــې دي
د لـــوړ همـــت خاونـــدان ځکـــه پـــه مشـــکل پســـې ځـــي[۲]

په پورته شعر کښې الفت یو لوړ اجتماعي پیغام لري او هغه دا دے چې بې فکره له ګړنګونو ځان غورځول او په یوه چاره کښې غور او فکر نه کول لویه ټولنیزه نقیصه ده، خو د لویو افتخاراتو او لوړو ګټو لاسته راوړل، ستونزې او مشکلات ګالل دي دا کار سخت دے او لوړ همت غواړي چې مشکلات وریسې وګالل شي او هدف تر لاسه شي ، الفت صېب لکه چې ډېر پوهان په دې باور دي تل ئې فکر وړاندې کړے او خلکو ته ئې د خپل فکر له لارې یو لوړ پیغام رسولے دے هغه خپلو خلکو ته دا تفهیموي چې همت هغه څه دي چې دوي په ځان متکي کوي او د همت خاوندان تل د ویاړونو خاوندان وي خو هغه څوک چې له همته کار نه اخلي هغوي تل، پاتې او له لوړو افتخاراتو نه بې برخې وي .

الفت صېب لکه څنګه چې ښه مفکر دے فکر او کار او فکر او عمل یو له بل سره لازم او ملزوم ګڼي، د هر څه په وړاندې چې مونږ اقدام کوو لومړےپړې فکر کوو، ځکه هر کار له فکر کولو پرته باید ونشي، خو تل فکرونه هم چې تر شا ئې هوډ، تصمیم او پرېکړه نه وي بې ګټې دي، ډېر پوهان په دې باور دي چې فکر د انسان د مغز هغه دنده ده چې کړنې او فعالیتونه ئې د لغتونو او پرېکړو په چوکاټ کښې د طبیعت او ټولنیزو قوانینو انعکاس دے، دغه فکر انسان ته د پېژندلو او همدا شان په نړۍ کښې د سترو بدلونونو د یوې وسیلې په توګه خدمت کوي[3]۔(۱۳، ۲۰۸)

نو الفت صېب هم په خپل یو نثر کښې دې برخې ته اشاره کوي او وائي چې: ((وروسته له فکر کولو کار او عمل په کار دے، بې عمله فکر او بې فکره عمل یو هم سمه او صحیح نتیجه نه لري، فکر دهمدې لپاره دے چې سړي ته کار او د کار سمه طریقه وښئي، د انسان صلاحیت او قابلیت د کار او عمل له مخې معلومېږي ۔تقوی او عدالت، ظلم او فسق د انسان په اعمالو او کردار کې ځان ښئي ــــــ له ښه فکر نه ښه اراده او له ښې ارادې نه ښه عمل پیدا کېږي ځکه کار او عمل ته د فکر نتیجه او غایه وایو او اصلي مقصد یې بولو ۔فکر پخوا له عمله دیوه مړی مثا ل لري او مفکوره په عمل ژوندی کېږي دفکر صحت او غلطي پس له کار او عمله معلومېږي هغه فکر چې عملي کیدے نشي څه قیمت نه لري ۔ څوک چې فکر کولے شي او کار نشي کولے هغه لکه ګوډ او شل داسې دے چې هیڅ ځاے ته نه رسېږي او په هروخت کښې بل ته محتاج دے هغه چې کار کولے شي او فکر نشي کولے د ړندو مثا ل لري چې لیاره نهویني او په لیاره تللے شي ــ کار د انسان هغه اقتدار څرګندوي چې دلوے ښتن له قدرت څخه فیض اوبرخه لري او انسان ته د خلافت حق ورکوي ۔

د منطق پوهانو انسان په نطق عقل او فکر له نورو حیواناتو بېل کړےمګر که نوي اصطلاحات جائز وګڼل شي نو په کار او فعالیت ئې بېلول بهتر دي ۔د ځمکې په ټولو ژوو او حیواناتو کښې انسان یو فعال او کاریګر مخلوق دے چې دده په کارونو او فعالیتونو دا دنیا معموره او ودانه ده، دغه لوے لوے ښارونه او لوړې ماڼۍ دغه د کار فابریکې او ماشینونه دغه سمسور باغونه او شنه فصلونه، دغه لوے جهازونه د اور ګاډي او طیارې د انسان د فعالیت او کار شواهد دي چې انکار ترېنه نشي کیدے ۔پاک خداے په کار او فعالیت کښې د خلقت او ایجاد قوت اېښے دے او داسې څه ترېنه پیدا کېږي چې دمخه ئې تصور هم نشي کېدے))[4] (۳، ۶-۵)

د کار او همت ستاینه په ډېرو مواردو کښې شوې ده هر هغه انسان چې کار کوي تل سر لوړے ژوند لري په ښه نوم یادېږي او نورو انسانانو ته ئې فایده رسېږي، نو الفت صېب په خپلو منظومو وینااوو کښې هم د کار اقدام او په کار لاس پورې کولو ته په درنه سترګه ګوري، الفت صېب فکر ته چې په درنه سترګه ګوري خو هغه فکر ښه بولي چې ښه پایله ولري ، یوازې هغه فکر نه چې د تشویش په

انداز کښې وي او سړے په رواني ناروغيو اخته کړي، الفت صيب په خپله يوه منظومه وينا کښې وائي چې :

چې له لرې سړے کاندي سنجشونه
کار ته نه رانږدې کېږي کړي فکرونه
له دې فکر او سنجشه پېدا کېږي
دماغونو کښې سودا زړو کښې غمونه
بې له فکره چې څوک کار کړي خوشې زيار کړي
چې بې کاره کړي فکرونه ځان به خوار کړي
چې عمل او فکر يو له بله بېل شي
عمل خوار شي فکر ورکه ، سمه لار کړي[5]

د ټولنيزو نظرياتو په لړ کښې الفت صيب په صبر او زغم هم ډېر ټينګار کوي، د پوهانو په باور: ((صبر و زغم يو اخلاقي ارزښت دے، هر انسان د ستونزو او ناخوالو پر وړاندې صبر و زغم ته هڅول کېږي، صبر له ديني اړخه نيولے تر دنياوي پورې يو عالي اخلاق ګڼل شوي دي، له همدې لامله د اسلام په اخلاقي نظام کښې صبر يو اخلاقي ارزښت دے، چې د مشکلاتو او کړاوونو په وړاندې انسان ته د حوصله مندۍ او تحمل صفت وربخښي، صبر هم د بندولو او منعه کولو په مانا راغلے دے .))[6]

سره له دې چې صبر يو اخلاقي ارزښت دے او د انسان په ژوند کښې که د سختيو او کړاوونو په وړاندې ترې کار واخيستل شي، انسان د کاميابۍ لوري ته بيائي ، په اسلامي اصولو کښې هم صبر د علماؤ له نظره د ګڼو اړخونو لرونکے دے لکه په عباداتو او اطاعت کښې صبر چې دا ډول صبر کښې د الهي اوامرو کښې انسان سختۍ او مشکلات زغمي، د صبر او زغم په اړه اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد(ص) فرمائي: زۀ د مسلمان حالت ته تعجب کوم چې ټول کارونه ئې د خير دي او بل هيڅوک داسې نشته ځکه کله چې ورته خوشحالي ورسېږي د الله تعالى شکر ادا کوي او شکر سراسر خير دے او کله چې مصيبت ور ورسېږي بيا له صبر څخه کار اخلي او صبر د خير باعث ګرځي[7].

د پورته اسلامي څرګندونو په رڼا کښې الفت صيب د صبر په اړه خپل پيغام په يوه منظومه وينا کښې وړاندې کوي:

ځينې وائي صبر غم کښې نه ژړل دي
د اولاد په مړينه ږيره نه شکول دي
که صحيح مانا ئې غواړې زما جانه
په سختيو کښې د خپل ځان نه بايلل دي[8]

عدالت:

عدالت هم یو اجتماعي عمل دے چې الله پاک ئې په قران کریم کښې ذکر کړے دے او دا یوه اجتماعي وجیبه هم ده چې انسان له عدل او انصاف نه کار واخلي، له همدې امله کامل مسلمانان په خپلو ټولو اجتماعي کړو وړو کښې له عدالت او انصاف نه کار اخلي او د ظلم ، سرکشۍ او له بې عدالتۍ نه ډډه کوي، ګل پاچا الفت هم چې دیني علوم ئې زیات لوستي او د افغاني ټولنې په روح او روان باندې پوهېدۀ نو ددې ټولنې په جوړښت کښې ئې د اسلام نقش بارز ګڼلے دے ، دے په خپل دغه کتاب کښې د عدالت په اړه بشپړ بحث لري او وائي: ((د اسلام عدلي او قضائي برخه د اجتماعي نظام په حېث د انسان سر و مال ، کرامت او حریت مصون ګڼي او د حقوقو حفاظت ئې کوي ، د ظلم او ضرر مخه نیسي ، فتنه او فساد محکوموي، جایت او فساد ، فحشا او منکر د جزا وړ بولي او عدالت د شرعي احکامو په کامل او صحیح تطبیق تامینوي.)) [9]

په اسلام کښې د عدالت غوښتنه د ژوند په هرې برخې پورې تړلې ده ، لکه د یتیمانو او مسکینانو په برخه کښې باید له عدالت کار واخیستل شي ، پر هیڅ چا تجاوز او تیرے ونشي، له عدل او انصاف باید کار واخیستل شي ، اسلام د عدالت دین دے او بې عدالتي نه خوښوي[10].

د الفت صېب زیاتره لیکنې په اجتماعي عدالت راڅرخي او هغه په ټولنه کښې د افراط او تفریط ضد مفکوره درلوده ، سر محقق عبدالله بختاني خدمتګار په خپله یوه لیکنه کښې د استاد الفت په اړه وائي: ((استاد د فرد او جامعې په معامله کښې افراط او تفریط دواړه ډېر خطرناک ګڼي او ددغې موازنې ساتنه ډېر دقت غواړي، که ددې تلې هره پله درنه شي اجتماعي عدالت له منځه ځي او ظلم منځ ته راځي، اسلام عرب و عجم، تور و سپین، بډا ے او فقیر مساوي حقوق ورکړي او اجتماعي عدالت ئې له هر څه پورته او لوړ ګڼلے دے.)) [11]

د عدالت په اړه پخپله استاد په خپله یوه منظومه وینا کښې دا ډول څرګندونې لري:

چې صادق او خاین ببل کړي یو له بله
اوس پکار مونږ ته هم دومره بصیرت دے
بې له علمه ، بې له عدله ، بې له رحمه
په چا باندې روا ، کله حکومت دے
که مې څوک په لښته ووهي ظالم دے
که قانون مو غوڅوي سر عدالت دے[12]

د عدالت ترڅنګ الفت صېب یوې بلې موضوع ته اشاره کوي چې هغه پوهه او تفکیک دے، کله چې د

صادق او خاین د جلاوالي مسئله نو پوهې او بصیرت ته اړتیا ده چې خاین او صادق سره بېل شي ، بلـه مهمه خبره چې هلته په دې بیت کښې راغلې هغه هم لوړه اجتماعي موضوع ده او هغه دا چې کله چې علم نه وي، عدالت نه وي، رحم نه وي نو په قوم حکومت کول هم ناجایزه عمل دے، همدارنګه په اجتماعي موضوعاتو کښې قانون ته په لوړه مانا قائیلېدل دا نهایت زیات عدالت دے ، ځکه قانون د چا سر غوڅوي څوک ئې بې عدالتي نه ګڼي، خو که ناحقه څوک په لښته وهل کېږي هیڅاته د زغم وړ نهٔ ده، الفت صېب د عدالت موضوع په ډېرو ښو الفاظو کښې تشریح کوي او صادق او خاین ښه تفکیکوي او دا بصیرت ته اړتیا لري ، د الفت صېب مقصد هم دا دے که چېرې عدالت پلے شي ، قانون پلے کېږي، کله چې قانون پلے شو، اجتماعي ستونزې له منځه ځي او هر څوک انساني کړنو او بشري ښېګڼو ته واداره کېږي .

فضیلت:

انسان الله پاک په ټولنه کښې اشرف المخلوقات پېدا کړے او انساني فضیلیت د انسان د عزت او درناوي سبب ګرځیدلے دے انساني ټولنه چې څومره هم منوره ده دلیل ئې دا دے چې انسانان د فضیلت څښتنان دي ، انسان ته رب العزت ډېر لوړ مقام ورکړے دے او په همدغه لوړ مقام ئې د مخلوقاتو اشرف ګرځولے دے، هر کله چې د یوې ټولنې د فکر او پوهې کچه کمه وي ، هلته د علم او پوهې په ګانه د انسانانو قدر او عزت هم زیات وي او په درنه سترګه ورته کتل کېږي، الفت صېب هم د خپل شعر په دنیا کښې همدغو فضایلو ته قایل دے او په ریښتیني معنٰی د انساني کړنو او خصلتونو ذکر ئې په خپله شعر و شاعرۍ کښې کړے دے :

فضیلت د انسان علم و عمل دے
که په سر ئې پټکے ، شال او که ململ دے
د هر چام عنې ته ګوره نه لباس ته
ما د ښه لباس خاوند ولید مهمل دے
په تورتم کښې دې هغه سړے وي وړاندې
چې ئې لاس کښې د عرفان ښایسته مشعل دے[13]

ناپوهي:

هر هغه څه چې د نورو بادرکه پوهانو په څېر ئې الفت صېب هم زورولے هغه د دې قوم ناپوهي او کم عقلي ده ، لکه څنګه چې ستر خوشحال د پښتون قوم په اړه یوه ستره اندیښنه لرله چې یو بل ته بدبینه دي ، بد خویه دي او دا ئې په ښکاره ویل چې:

پښتانه واړه بد خوي دي
کور په کور کاندي غورځي
يو چې سر کاندي په پورته
بل ئې ووهي مغزې
پښتانه د بدبينۍ د خصومت دي
په حيا په شجاعت ئې وکړ شاش[14]

الفت صيب هم د پښتنو دې برخې ته پام وراړولے وو او خپل درد ئې اظهار کړے دے، د (نوي فکر) تر نامۀ لاندې په يوه مشهور نثر کښې وائي چې: (( هر چېرته لاړم، هر چېرته ورغلم، ښکته پورته ډېر وګرځيدم ، ښارونه مې ولټول، په هيڅ ځاے کښې له هيڅا سره پته نه وه، هغه څه چې زۀ غواړم دلته نه پېدا کېږي، چا چې غټه ځوکۍ غوښتله پېدا ئې کړه، ځوک چې په نوي موټر پسې ګرځيده هغه دے پکښې ناست دے هغه چې په پيسو پسې لالهانده وو بانکونه ئې ډک کړل يوازې زۀ خپلې ارزوته ونه رسېدم، په رښتيا چې زۀ په ډېر نادار او نايار څيز پسې ګرځم او زما حرص له ټولو نه زيات دے، هو! زۀ نوے فکر، نوے خيال او نوے جهان غواړم، دلته نوي راډيوګانې، نوي فلمونه، نوي ساعتونه، نوي فېشنونه پېدا کېږي مګر نوے فکر او مضمون نه شي پېدا کيدے.)) [15]

د ګل پاچا الفت په ټولو اجتماعي نظرياتو کښې د هغه د انتقادي فکر مفکوره ډېره بارزه ده، انتقاد يا تنقيد د انساني ژوند يو مهم اړخ دے هره هغه ټولنه چې انتقاد منونکي وي، اجتماعي مشکلات پکښې کم وي، زغم او حوصله پکښې زياته وي او د يو بل منلو روحيه پکښې پياوړې وي، الفت صيب لکه څنګه چې نوره نړۍ ئې هم ليدلې وه د نړۍ پرمختګونه ئې هم ليدلي وو ، دۀ هڅه کوله چې افغاني ټولنه هم د انتقادي رياليزم يوه بېلګه وي ، همدا لامل وو چې دۀ ښکاره خبره کوله هغه څه ئې چې ليدل نقدول ئې ، د خوشحال په څېر ئې بربنډه خبره کوله :

نه ومه خبر پرده مې لړه غوندې جګه کړه
نه دي د ويلو هغه څه چې ما ليدلي دي[16]

سرمحقق عبدالواجد واجد د استاد الفت انتقادي روحيه ډېره پياوړې ګڼي او د هغه نقد يو اصلاحي نقد بولي : (( استاد الفت چې هر څه ليکلي په ډېره مينه او اخلاص ئې د ټولنې په ګټه ليکلي د هرې ليکنې د انتقاد روحيه ئې ډېره پياوړې ده، خو انتقاد ئې د زړۀ سوي له مخې او د لارښوونې په غرض دے نه دا چې د خپلو شخصي اغراضو لپاره انساني کرامت ته زيان رسوي، د پښتو ژبې ټول ليکوالان او شاعران ئې په خپله خوږه ليکنه کښې د پښتو ادب تيوريک اړخ او د نقد له فن سره اشنا کړي او په خپلو خوږو الفاظو کښې ئې د خوارانو او مظلومانو او بيچارو پلوي او د دوي د مقابلو اشخاصو غنده کړې ده ))[17]

استاد الفت د انتقاد یو خاص طرز لرلو دے د انتقادي ریالیزم د لارې لاروے او په همدغه نوم مشهور شوے دے، ددهٔ ژبه د ریښتیني انتقاد ژبه ده، د واقعي او عیني پېښو د راسپړلو لپاره ئې کارولې ده .

## انتقادي ریالیزم:

دا چې ریالیزم د حقائقو او واقعیتونو پر بنیاد ولاړ مسلک دے او تر ډېره چې د انتقادي ریالیزم بحث رامنځته کېږي نو دا یو ترکیبي کلمه منځته راوړي، چې په انګرېزي کښې ورته (Critical Realism) چې د ځینو په اند دا د غرب د فلسفې یو ښاخ دے چې د (روے باس کار) برطانوي فیلسوف په ذریعه وړاندې او پراختیا ئې وموندہ، دغه ادبي مکتب د مثبتې کره کتنې او همدارنګه د نوي فلسفي نظر د علمي مفکورې په توګه مطرح شو، چې دا یو ریښتیني نقد وشمېرل شو، چې محسوسې پایلې لري یا په بله وینا انتقادي ریالیزم داسې یو واقعیت دے چې په ادبیاتو کښې په موثر ډول پایلې لري .

ریالیزم په ادب او هنر کښې داسې یو میتودیکه لاره ده چې لیکوال او هنرمند څخه د پېښو د بشپړ ریښتیني ترسیم او تصویر غوښتنه کوي[18].

په انتقادي ریالیزم چې کله مونږ بحث کوو، تر ډېره د انتقادي تفکر (Critical Thinking) اصطلاح هم مخې ته راځي، انتقادي تفکر په ټوله کښې د انتقاد یا عیب لټونې په مفهوم نه دے، دغه مفکوره د یونان د فلاسفاوو، سقراط او افلاطون له وخته مروجه ده او همدارنګه په نوي عصر کښې هم دا یو ډېر مهم بحث دے، انتقادي تفکر کولے شو چې د مستقل فکر کولو او انعطاف په چوکاټ کښې هم تعریف کړو، انتقادي تفکر په خپله غېره کښې ډېر مهارتونه او توانایۍ رانغاړي، که چېرې مونږ وتوانېږو دغه قدرت او توانائي ترلاسه کړو او ترې ګټه واخلو نو کولے شو چې ووایو، د انتقادي تفکر لرونکي یو، که دې بحث ته دوام ورکړو نو یو شمېر ټکي به پکښې په دې ډول په پام کښې ونیسو:

- الف: تجزیه او تحلیلول: په وړو وړو برخو د مطالبو جدا کول یا تقبیح کول، د موضوع د درک په موخه د کړنو او اړیکو لپاره .
- د معلوماتو پسې هڅه کول: د یوې منبع نه د مختلفو معلوماتو پسې هڅه کول، ترلاسه کول، جمع کول او تحلیلول .
- منطقي استدلال: د لاسته راغلو معلوماتو پر اساس، جمع بندي او نتیجه ګیري

وړاندې په انتقادي ریالیزم او انتقادي تفکر ژور بحث وشو، د انتقادي تفکر معنٰی دا ده چې د ټولنې هرې کړنې ته په داسې نظر وکتل شي چې د نیمګړتیاوو رابرسېره علاقه که په کښې څه نا څه موجوده وي، خو ترڅنګ ئې تعمیري نظریات هم مطرح دي . د الفت نردې هر نثر او هر شعر د ټولنې د هغو کردارونو په باب توضیحات دي چې دے ئې سمول غواړي او دا طبیعي خبره ده چې د یوه انتقادي ریالیست په توګه الفت صیب خپله ټولنه هوسا او له هر اړخیز پلوه په پښو ولاړه غواړي، ځکه ئې نو

تصور هم دا دے چې خلک دې ددۀ په فکر شي، ځکه دے هر څوک په خپل فکر غواړي .
د الفت صېب نظريه که له يوې خوا د عواطفو په زنځير تړلې ده، خو هم مهاله الفت صېب د ټولنې له عيني واقعيتونو هم ځان خبروي او دې ته متوجه دے چې اجتماع څنګه او په څه ډول د حاکمانو نواقصاتو ته متوجه کړي .
که په پورته توګه د الفت صېب انتقادي مفکوره د اجتماعي مشکلاتو او موضوعاتو په تړاو وليدل شي نو دا يوه لوړه مفکوره ده، ځکه دے بې عدالته هم نه دے چې له يوې مخې نقد خپله وظيفه ګرځوي، بلکې د ښه او بد تر منځ تميز هم کوي، په يو بل ځاے کښې دے د حاکمانو ستاينه هم کوي هغه حاکم چې ټولنه ترې خوشحاله وي او د خلکو په سر لاس راکاږي، دے دا سې خلک د ټولنې هغه وګړي بولي چې هر څه د دوي په توان او قدرت کښې وي، د حکومت لښته د دوي په لاس کښې ده د دوي په امرونو خلک وهل کېږي او خوشې کېږي. الفت صېب همدا سې حاکمانو ته په خطاب کښې وائي که تاسې له عدالته کار واخلئ نو يو بې ګناه به له زندانه خلاص شي، د سختو او تنګو ورځو نه به خلاص شي او يو ګنهګار به د تورو تمبو شاته وغورځېږي، ملت او خلک به ئې له زور زياتي نجات پېدا کړي، دے د حاکمانو مقام په دې لوړ بولي چې که عدالت تامين کړي، مظلومان به له ظلم خلاص شي او که عدالت تامين نه کړي، ظلمونه او بې انصافئ به سرايت وکړي، د دوي په غفلت د الفت صېب په باور زيات خلک تباه کېدے شي او که حاکم ويښ او بېدار وۀ او له عدالت نه ئې کار اخيسته، نو اجتماع به ورسره د انکشاف په لوري ځي .
الفت صېب په يو بل بحث کښې حاکمانو ته وائي چې، بې ګناه خلک په وهلو ټکولو مه قايلوئ او دا هم ورته وائي چې د رشوت په مقابل کښې په حق سترګې مه پټوئ، لکه څنګه چې جرم يو فردي عمل دے الفت صېب هم حاکمانو ته وائي چې د يوه په ګناه بل مه نيسئ او دا هم ورته وائي چې تاسې په خپل نفس او خواهشاتو حاکميت پېدا کړئ، دا هم ورته وائي چې په زړونو حکومت وکړئ، د خلکو په سرونو حکومت مه کوئ، هره ګناه په فرد پورې منحصره ده او افراد بايد د خپلې ګناه سزا و ويني، نه د يو فرد ګناه په بل پورې وتړل شي .
الفت صېب حاکمانو ته په خطاب کښې د رشوت نه اخيستو تلقين کوي او ورته وائي چې تاسې کومه کټګوري د رشوتونو ټاکلې په يو او بل نوم دا کار مکوئ، دے يوازې حاکم نه بلکې خان او ملک هم په همدې رديف کښې راولي او ورته وائي چې تاسې چې کوم ټائيټل د غېر رسمي رشوت په نوم ټاکلے او په دې نوم خان او ملک ته ورکول کېږي دا هم لوے زياتے دے، نو دے په ټولو حاکمانو غږ کوي چې له دې چارې لاس واخلي :

زه ئـــې پـــه لیـــدلو او کتلـــو ګنهګـــار شـــومه
ډېـــر ئـــې پـــه کولـــو او عمـــل بانـــدې ښـــاغلي دي
نـــه ومـــه خبـــر پـــرده مـــې لـــړه غونـــدې جګـــه کـــړه
نـــه دي د ویلـــو هغـــه څـــه چـــې مـــا لیـــدلي دي[19]

د ډېرو په باور د الفت د بیان د ارائې طرز، نویو مضامینو، انتقادي مفکورو او طنزیه جوهر پښتو نثر ته نوے خوند او رنګ ورکړ .

زرین، انځور، استاد الفت، په پښتو معاصر دور کښې د انتقادي هنري نثر مخکښې بولي: ((د الفت په وخت کښې هره نثري تجربه زمونږ د نثر لپاره په زړۀ پورې وه ، او په دې توګه زمونږ د معاصر نثر او د نننۍ نثر تکوین او پرمختګ لپاره دغو تجربو خپل امتیاز ثبوت ته ورسولو ، د الفت نثر د هغه د نظم او نثر نه هم په زیاته پېمانه د پښتو ژبې د معاصر جریان لپاره اغېزمن جوت شوے وۀ او جوتېږي، ځکه ئې نو باید د معاصر بشپړ انتقادي هنري نثر مخکښ وبولو .))[20]

اروابناد پوهاند زېور الدین زېور الفت د معاصر نثر یو اغېزمن شخص بولي: ((د پښتو په معاصرو هنري ادبیاتو کښې د ښاغلي الفت اغېز د یو ریفورمیست ، وطنپال او وطن دوست په صفت له ورایه ښکارېدۀ، ځکه چې دۀ د پښتو ژبې، د هنري ادبیاتو په پراختیا کښې ډېرې هلې ځلې کړې دي.))[21]

د الفت صبب اجتماعي نظریاتو ته که وکتل شي، ډېر پیاوړي او عالي نظریات دي، هغه د جهل او ناپوهۍ پر وړاندې هم په خپل نظم او نثر کښې غږ پورته کړ . اولس ئې پوهې او علمیت ته راوبالۀ همدارنګه ئې د عدم رواداري او نه زغم پر وړاندې تلقین ورکړ او په دې ئې وپوهوۀ چې انساني ټولنه باید د مینې رواداري او خواخوږۍ په فضا کښې ژوند وکړي، خپله انتقادي مفکوره ئې هم په داسې شکل وړاندې کړه چې د ټولنې ټولو نواقصاتو او نیمګړتیاؤ ته ئې د اصلاح په موخه اشاره وکړه خو د انتقاد طرز ئې هم په داسې ژبه وۀ چې هر چا پکښې د خپل راتلونکي هوسا ژوند ښېګڼې لیدلې ، که په حکمرانانو ئې نیوکې وکړې خو دا نیوکې ئې د اعمار او ترمیم لپاره وې، په مذهبي ډلو ئې نیوکې هم په دې شیوه وکړې چې د اسلام اصلي څهره او روح ټولنې ته وړاندې شي. د انسان دوستۍ مفکوره ئې هم په عالي بڼه تر خلکو ورسوله ، له نورو سره ئې د همدردۍ او خواخوږۍ تصویر هم په خپل نظم او نثر کښې وړاندې کړ او په ټوله کښې ئې خپل پیغام ټولنې ته په داسې شکل ورسوۀ چې د یو رسالت مند شاعر او لیکوال په توګه ئې خپل رسالت ادا کړۀ .

**References:**


1. Ulfat, Gul Pacha, da Ustab Gul Pacha Ulfat Nasri Kuliat, da Muhammad Ismail Yoon pa ziar, Kabul, Danish khparndoya tolana, 1387, p - 480.
2. Ulfat, Gul Pacha, da ulfat malghalary (peenzam chap), da Shuhrat Nangyal pa ziar, Pekhawar, Danish khparandoya tolana, 2009, p. 320.
3. Malkzay, Abdur Rasheed Pohandwe, Tolneeza arwa pohana, Ningrahar. Khateez khprandoya tolana, 1398, p 208
4. Ulfat, Gul Pacha, Ijtemayee Nazriat, Kabul, pp. 5, 6
5. Ulfat, Gul Pacha, Da Ulfat Malghalary (peenzam chap), p. 445
6. Abdullah, Noor Ibad, Da Islam Akhlaqi Nizam, zbara, Zekrullah Zekr, Kabul, mustaqbil khparandoya tolana, 1395, p. 131
7. Muslim Bin Hijajunashapuri, Al-Jame Sahih, drem jild, Sahih Muslim, Pekhawar, Khyber group of copanies, 1349, hadees number 2999.
8. ULfat, Gul Pacha, Da Ulfat Malghalary (peenzam chap), p. 243.
9. Ulfat, Gul Pacha, Da Tolany Pa Jorakht ke da Islam naqsh, Pekhawar, Danish khprandoya tolana, 1384, p. 52.
10. Sultani, Mangal, Humanism da Sharqi ao Gharbi Phalasphao la nazara, Zahir khprandoya tolana, 1390, p. 91.
11. Khidmatgar, Bakhtani, Abdullah, Zama Ustaz Ulfat, da ustad Ulfat yaad, Kabul, Madyotek, p. 89.
12. Ulfat, Gul Pacha, da Ulfat Malghalary (peenzam chap), p. 234.
13. Hum dagha asar, p. 62.
14. Ulfat, Gul Pacha, da tolany pa jorakht ke da Islam Naqsh, p. 74.
15. Ulfat, Gul Pacha, da Khushal Khan da Ash’aaro Ijtemaee ao Akhlaqi khwa, Nabigha Khushal, da Lal Bacha Azmoon pa ziyar, Kabul, da Afghanistan Aloomo Academy, 1397, p. 113.
16. Ulfat, Gul Pacha, da Ulfat Malghalary (peenzam chap), p. 190.
17. Hiwadmal, Zalmay, da Khushal Mafkoory, da Pukhto Adbiyato mastery darsi kitab,

Ningrahar Puhantoon, 1395, p. 15.

18. Pukhto, Pukhto Tashreehi Qamoos, drem tok, Kabul, da Afghanistan da uloomo academy, da zabo ao adbiyato institute, zabpohany sanga, 2012, p. 1899.

19. Ulfat, Gul Pacha, da Ulfat Malghalary (peezam chap), p. 190.

20. Anzoor, Zarin, da Ulfat She'er Mo Khwakh de ka na, da Ulfat Yaad, Kabul, da qomoono ao qabayalo charo wezarat, 1361, p. 68.

21. Zewar, Zewaruddin, Pukhto Adbiyato Tareekh Osanay Daura, Ningrahar, Momand Khparandoya tolana, 1394, p. 197.